ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

# د ډاکټر اقبال نسیم خټک مذهبي شاعرۍ ته یوه کتنه


- Muhammad Sajid[1]
- Sana Gul[2]
- Rizwanullah Khan[3]



***ABSTRACT***

*It's fascinating how literature often mirrors the society and beliefs of its time, including religious influences. Professor Iqbal Naseem Khattak's poetry seems to reflect a deep engagement with religious concepts and ideas, offering insights into how spirituality shapes individuals and communities .In this article, the religious poetry of Iqbal Naseem Khattak has been researched.*


ډاکټر اقبال نسیم خټک په پښتو ادب کښې د یو ډېر ښۀ تخلیق کار، محقق، نقاد، ژباړن او نورو ډېرو کوټلو اوصافو خاوند وۀ. ښاغلے د دسمبر په دولسمه نېټه کال ۱۹۴۲ء کښې د ضلع کرک په څوتره نومې کلي کښې د محترم راز بادشاه په کاله کښې پېدا شوے دے. د نیکۀ نوم ئې احمد شاه او د ور نیکۀ نوم ئې محمد شاه وۀ.

"په ۱۲ دسمبر کال ۱۹۴۲ء د کرک ضلعې په مشهور کلي "عیسک چونتره" کښې په یوه کورنۍ کښې پېدا شوے دے"[1]

د دوي کورنۍ په علمي لحاظ سره ډېر غوره وه. او د روایتي روش نه ئې انفرادیت لرو. کله چې دوي د شپږو کالو وو نو په دغه وخت کښې د دوي پلار راز بادشاه د دې دنیا نه رحلت کړے دے.[2] دغه کال ۱۹۴۹ء وۀ او دا داسې وخت وۀ چې په کرک کښې هسپتالونه او نور طبي سهولیات په نشت حساب وو. د راز بادشاه د مرګ سبب د ګېډې درد وۀ. د پلار د وفات په حقله اقبال نسیم خټک لیکي:

"زما پلار یو غښتلے ځوان وۀ. سبق ئې نۀ وۀ وئیلے خو نور ډېر پوهه او مینه ناک بنده وۀ. هغه په ټولو ورونو خوئندو کښې کشر وۀ. هغه د جون ۱۹۴۹ء په دوېمه هفته کښې د ګېډې د درد دلاسه بیمار شو ، په هغه ورځو کښې په کرک کښې هسپتال نۀ وۀ، نو ځکه هغۀ په ۱۷جون

---


[1] MPhil research Scholor at department of Pashto University of Malakand
[2] MPhil Research Scholar, Department of Pasho, AWKUM Mardan.
[3] Mphill Research Scholar at AIOU Islamabad.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

۱۹۴۹ء عېن په ځوانۍ کښې د دې دنيا نه لاړ. د هغه عمر د مړ کېدو په وخت پنځه دېرش کاله وؤ. مونږ دوه ورونړه او دوه خوئندې يتيمان شو"[3]

د ډاکټر اقبال نسيم خټک د زېږون په حقله بېلابېلو ليکوالانو او اديبانو خپل ليکونه د قلم په ذريعه په کاغذ نقش کړي دي، ډاکټر محي الدين هاشمي ئې د زېږون په حقله ليکي:

"په ۱۹۴۲م کال ئې د پښتونخوا سويلي خټکو په کور کښې سترګې دنيا ته غړولي"[4]

په ابتداء کښې که هر څو دوي د ژوند د ګرانو او سختو پړاوونو نه تېر شوي دي، ولې په عملي ژوند کښې ئې يوه لويه نامه ګټلې ده، ټول ژوند ئې د پښتو ادب په خدمت کښې تېر کړے دے. د دوي د شاعرۍ يوائېنۍ مجموعه "د راز خبرې په کاغذ" په نوم چاپ شوې ده، چې په موضوعي ډول په کښې د ژوند سره تړلي يو شمېر موضوعات ډېر په زړۀ پورې او ښکلي انداز سره راوړلے شوي دي. د عمومي ډېرو موضوعاتو نه علاوه د دغه شعري مجموعې يوه موضوع مذهبي شاعري ده.چې د ډاکټر اقبال نسيم خټک د مذهبي بنياد د پختګۍ او د مذهب سره د کلکو اړيکو ضمانت او دلالت کوي. د ښاغلي په ډېرو شعرونو کښې د مذهب سره تړاؤ ظاهر دے.

دوي په زير بحث شعري مجموعه کښې نعتونه خو ليکلي دي، ولې د دوي د نعتونو په اړه د څه ليکلو نه وړاندې لازمي ګڼم چې د نعت لږ وضاحت وکړم. "نعت" يو موضوعي صنف دے چې څه خاص ټاکلے هيئت او بناوټ نۀ لري او د موضوع نه ئې پېژندګلو کولے شي. د نعت په حقله ښاغلے مشتاق مجروح يوسفزے داسې ګويا دے:

"هغه شعري تخليق ته نعت وائي چې په کښې د حضرت محمد ص د ذات، صفاتو بيان او ټول اړخيزه مدحه او ختم رسول ص مبارکې هستۍ ته په کښې د عقيدت او مينې اظهار شوے وي."[5]

اغلې فرزانه غني د نعت په حقله خپل تاثرات داسې پېش کړي دي:

" په اصطلاح کښې هغه شعري تخليق چې په کښې د حضرت محمد ص د ذات صفاتو او ټوله اړخيزه مدحه شوې وي، هغې ته نعت وئيلے شي. د موضوع د وسعت په وجه د نعت څۀ مخصوص هيئت نشته، شناخت ئې د موضوع نه کېدے شي"[6]

نعت چې څه ته وئیلے شي او کومې غوښتنې لري، د ډاکټر اقبال نسیم خټک نعتونه په هغه معیار سره پوره او کوټلي دي چې اصل وجه ئې د اقبال نسیم خټک کره مطالعه او لوړ علمي معیار دے. دوي چې کوم نعتونه لیکلي دي، له هغو یو نعت د بېلګې په توګه شریکول مناسب ګڼم چې څه داسې دے، وائي:

"که افضل دي که اوسط دي که کمتر دي
په دربار د محمد (ص) ټول برابر دي
ستا هستي خو په تیارو کښې روڼ سحر دے
کائنات ستا له وجوده جلوه ګر دي
ستا اعمال که ستا اقوال که ژوند وژواک دے
د قرآن په میزان واړه برابر دي
چې دا ستا د عشق ډیوې په کښې بلیږي
د هغو وګړو زړونه منور دي
ستا لمن چې پرې خواره شوه نو مامون شول
چې له تا ځنې باغي شول در په در دي"[7]

یو بل نعت ئې څه داسې دے چې:

" افتخار د بندګۍ ئې په نبیانو کښې سردار ئې
ته نشان د عظمتونو ته بې شکه ذي وقار ئې
ته معیار د شرافت ئې ته مثال د شجاعت ئې
سرتر پا واړه شفقت ئې ته د حسن یو ګلزار ئې
تا انسان ته عزت ورکړو تا نسوان ته حرمت ورکړو
ته رڼا د جهانونو ته یو زېرے د بهار ئې
ورکه لار د بندګۍ دې راته بیا کړله روښانه
اوس منزل شو رامعلوم د ابدي رڼا مینار ئې
د شعور ډیوې شوې بلې ورکې شوې تیارې د جهل
ستا ګفتار هم یو اعجاز وُ ته موصوف په خپل کردار ئې
منتشرې ملغلرې دې امیل په ډېر هنر کړې

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

دا پـه مـونږ دې لـوے احسـان دے تـۀ زمـونږ د ژونـد معمـار ئـې"[8]

نعت لیکل د پېغمبر (ص) سره د زړۀ نه د مینې اظهار دے. دا د شاعر په کوټلي ایمان هم دلالت کوي، ډاکټر اقبال نسیم خټک ډېر نعتونه لیکلي دي. د پېغمبر (ص) د بېلابېلو ځانګړنو، درجاتو او کراماتو تذکرې ئې رامنځ ته کړې دي، له دې سوبه په موضوعي کچ د هغوي د مذهبي شاعرۍ پنګه هم د نورو موضوعاتو په نسبت ډېره ده. "د عقیدت ګلونه" د سرخط لاندې لیکلے شوي د یو بل نعت نه ئې څو شعرونه د بېلګې په توګه چې:

" تـۀ ښائسـت د جهــانونو تـه یـو حسـن بـې مثـال یـې
تــۀ وریـــځ د رحمتونـــو تـــه کـــرم د ذوالجـــلال یـــې
د باطـل پـه کـور مـاتم شـو د تیـارو سـینې سـورے شـوې
هــر یــو کــنج رڼـا رڼـا شــو د ابــدي رڼــا مثـال یــې
بــې ګــودره هــم بــې لارې اولســونه دې راغونـډ کــړل
د ایمــان پــه تــار دې یــو کــړل هنرمنــد او باکمــال یــې
د نېکــۍ ونــه دې نــال کــړه هــره سـیمه دې ګلــزار کــړه
ژونـد نعمـت شـو ژونـد اعـزاز شـو تـه لاربـب بلنـد فعـال یـې
د خــالق کرامــت هــم وو خــو ســتا خپــل شخصـیت هـم وو
بنـدګي دې عبـادت کـړه رهنمـا یـو بـې مثـال ئـې"[9]

"رڼا راغله" په موضوع هم ډاکټر اقبال نسیم خټک یو ښۀ نعت لیکلے دے، دغه نعت د پورته نورو نعتونو په څېر د غزل په هیئت کښې دے. څنګه چې د دې نعت سرخط دے هم دغسې په دې نعت کښې هغه ټولو رڼاګانو ته اشاره شوې ده چې د نبي پاک (ص) په راتګ سره د تیرو په ضد په وړومبي ځل منځ ته راغلې وې او د خلقو ژوند ئې بدل کړے وۀ. د دې نعت نه څو شعرونه :

" ژونــد روان وۀ خــو منــزل مقصــد ئــې نــۀ وۀ
د هســـتۍ پـــه بـــاغ کښـــې نـــوې هـــوا راغلـــه
شـــرافت د عقـــل چـــارو تـــه حېـــران وو

د ژوندون په هر اصول کښې نقا راغله
قبيله، وينه او رنګ له مېنځه لاړل
د رشتو اساس ته نوې معنيٰ راغله
د توحيد وږمه په هر ځاے کښې خوره شوه
په حرم کښې د بتانو قضا راغله"[10]

"د مغفرت پروانه" د سرخط لاندې ئې يو بل نعت ليکلے دے چې د غزل هيئت لري او سر ترپايه ئې په کښې د محبوب سره د مينې او عقيدت اظهار ډېر په ښکلي طريقه کړے دے، يو څو شعرونه د دغه نعت چې:

"په تصور کښې چې مې ستا د پښو پلونه ښکل کړل
لکه جنت کښې مې د الطهور جامونه ښکل کړل
د تکلم صفت دې ما په هيڅ يو شي کښې نۀ موند
پاڅېدم باغ کښې مې سحر تازه ګلونه ښکل کړل
ستا د اخلاق بلند معيار ته مې چې فکر وکړو
ما بې اختياره نمر سپوږمۍ او اسمانونه ښکل کړل
ما چې د اسم محمد ورد پرې بيا بيا کولو
په اشتياق مې د هغو ګوتو سرونه ښکل کړل "[11]

يو بل نعت ئې "د اوښکو نظرانه" د سرخط لاندې ليکلے دے، دا نعت هم د غزل په هيئت کښې دے. د دغه نعت لړه برخه چې:

"په محشر کښې به سرونه زمونږ ټيټ وي
مونږ به څه مخ شرموو ستا امتيان يو
مرضونه د بدن دي که د روح دي
ستا شفا غواړو محبوبه رنځوران يو
نورې ټولې اسرې تار په تار خورې شوې

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

اوس فقـــــط ستــــا د کــــــرم امیــــــدواران یـــــو"[12]

"د رڼا پلوشې" د سرخط لاندې ئې د غزل په هیئت کښې یو بل نعت هم لیکلے دے، چې مذهبي شاعرۍ زړۀ پورې بېلګه ده. څو شعرونه ترې راوړل غواړم چې:

"د ازل نـــه چـــې روانـــې د وختونـــو سلســـلې شـــوې
د رڼـــا پلوشـــې ګـــوره پـــه نصـــیب کښـــې د مکـــې شـــوې
کشـالې څـۀ لـرې نـۀ دي مـونږ پـه کومـه اوښـکې تـوئې کـړو
خـو چـې سـتا پـه ذکـر تـوئې کـړو هغـه اوښـکې دردانـې شـوې
یـا آئـین هـم پـاتې نـۀ شـو چـې ئـې پـانې سـلامت وې
سـتا آئـین هـم هغـه شـان دے کـه پـرې تېـرې زمـانې شـوې
سـتا د حسـن د جلـوو نـه د باطـل تیـرې پـه تېښـت شـوې
هـم پـه دغـه نـور روښـانه دا زمـا د زړۀ کـوڅې شـوې"[13]

په دې خبره د هر مسلمان مازغه خلاص دي چې دا دنیا الله پاک د پېغمبر (ص) له مخه پېدا کړې ده، لکه رحمان بابا وائي چې:

"کــــه صــــورت د محمــــد نــــۀ وے پېــــدا
پېـــدا کـــړې بـــه خـــدائے نـــۀ وه دا دنیـــا
کـــل جهـــان د محمـــد پـــه مـــخ پېـــدا شـــۀ
محمـــــد دے د تمـــــام جهـــــان ابـــــا"[14]

هم دغه شان ښاغلي ډاکټر اقبال نسیم خټک یو نعت " جهانونه واړه ستا په روئے پېدا دي" د سرخط لاندې د غزل په هیئت کښې یو ښکلے او زړۀ پورې نعت لیکلے دے او پېغمبر ص ئې په کښې د هر چا نه سر بالا بللے دے. د نمونې په توګه د دغه نعت څو شعرونه وړاندې کووم:

"تـــۀ پـــه واړه انبیـــاؤ کښـــې ســـرور ئـــې
انبیـــاء دي واړه ســـتوري تـــۀ قمـــر ئـــې

فـــــيض دې عـــــام دے پـــــه وګــــــړې بــــې منتـــــه
تـــــه شـــــفيع د درســـــت امـــــت بـــــه پـــــه محشـــــر ئـــــې
مخــــــالف دې هـــــم ګـــــواه پـــــه صـــــداقت دې
هـــــم صـــــادق ئـــــې هـــــم امـــــين ئـــــې هـــــم رهبـــــر ئـــــې"[15]

د پښتو ادب په منظومو اصنافو کښې يو صنف منقبت دے. د نعت په څېر منقبت هم يو موضوعي صنف دے خپل خاص ټاکلے هيئت نۀ لري. او د موضوع نه پېژندلے شي. په دې صنف کښې د صحابه کرامو، اهل بېتو وغېره صفت شوے وي فضل مير خټک د منقبت په حقله ليکي:

" د منقبت معنيٰ ده، تعريف کول، صفت بيانول، ثناء کول. ادب کښې هغۀ نظم (صنف سخن) چې د صحابه کرامو، اهل بېتو، صوفياء عظام او د خدام دين تعريف او توصيف په کښې شوے وي، منقبت دے. خو عموماً د صحابه کرامو او د اهل بېتو په مدح کښې ليکلي نظم ته منقبت وئيلے شي."[16]

د اردو ژبې نومورے ليکوال پروفېسر انور جمال د منقبت په حقله ليکي:

"یہ مذہبی شاعری کی (موضوع کے لحاظ سے) اصطلاح ہے جس کا مطلب تعریف، تعریف کرنا، مناجات وغیرہ ہے۔ منقبت اس نظم کو کہتے ہیں جس میں مذہبی عقیدے کی بنا پر کسی اسلامی، ہیرو کی تعریف و توصیف بیان کی جائے۔ عموما اصحاب رسول ﷺ اور آلِ رسول کی مدح میں منقبتیں لکھی گئی ہیں۔ منقبت کے لئے کوئی خاص ترکیبی سانچا یعنی ہیئت مخصوص نہیں۔ مسدس، غزل، مثنوی کسی بھی شکل میں منقبت لکھی جا سکتی ہے"[17]

ډاکټر اقبال نسيم خټک د نعت نه علاوه منقبت هم ليکلے دے چې د مذهبي شاعرۍ توکے دے. د هغوي د ليکلې شوې منقبت "منقبت د حضرت عثمان غني" چې د غزل هيئت لري نه څو شعرونه چې:

"لکـــــــه نمـــــــر هســـــــې عيـــــــان وو
خليفـــــــه دريـــــــم عثمـــــــان وو
د حضـــــــور پـــــــرې خـــــــاص نظـــــــر وۀ
ذلنـــــــورين لکـــــــه اســـــــمان وو
د اســـــــلام د ديـــــــن خـــــــادم وو
هـــــــم جـــــــامع د درســـــــت قـــــــرآن وو
د حيـــــــا عجـــــــب پيکـــــــر وو

نـــــــرم طبـــــــع خـــــــوش بيـــــــان وۀ"[18]

"سلسه د حسېن" ئي د غزل په هيئت کښې بل منقبت ليکلے دے، چې د حسېن (رضی الله عنه) صفتونه ئې په کښې بيان کړي دي - وائي:

"نـــن پـــه زړونـــو کښـــې پيـــدا شـــي ولولـــه د حســـېن
هـــر يـــو محـــاذ غـــواړي ملګـــرو حوصـــله د حســـېن
چـــې ســـپوري شـــونډې ماشـــومان چرتـــه قتليـــږي خدايـــه
ماتـــه شـــي يـــاده ځړيکـــې ځړيکـــې واقعـــه د حســـېن
تـــر پـــو باطـــل چـــې خپـــل انجـــام تـــه رســـېدلے نـــۀ وي
وي تـــــر ابـــــده بـــــه قائمـــــه سلســـــله د حســـــېن
د ننګيـــــالو ضـــــمير فرېـــــب د مصـــــلحت نـــــۀ منـــــي
د حـــــق پرســـــتو فېصـــــله وي فېصـــــله د حســـــېن"[19]

امامانو ته د عقيدت پېرزوئنه په سوچه او کره مسلمانۍ پوخ دليل او جوته مذهبي موضوع ده - ډاکټر اقبال نسيم خټک "امامانو ته د عقيدت پېرزوئنې" د سر خط لاندې يو منقبت ليکلے - د نوم نه ظاهره ده چې په دې منقبت کښې هغوي امامانو ته د عقيدت پېرزوئنې وړاندې کړې دي - د نمونې دپاره د دغه منقبت نه څو شعرونه:

" کـــــه بـــــې مثلـــــه وۀ جمـــــال د امامـــــانو
خـــــو تـــــاريخ جـــــوړ کـــــړو جـــــلال د امامـــــانو
چـــــې د حـــــق بېـــــرغ حســـــېن (رض) وۀ کلـــــک نيـــــولے
ځکـــــه ژونـــــد شـــــو لازوال د امامـــــانو
د اصـــــولو معرکـــــه وه نـــــور څـــــۀ نـــــۀ وو
قربـــــاني شـــــوه يـــــو مثـــــال د امامـــــانو
ســـــر ئـــــې پرېوتـــــو قاتـــــل تـــــه بنـــــکته نـــــۀ شـــــو
ژونـــــد کـــــړي نـــــاز پـــــه اســـــتقلال د امامـــــانو

چې د حق په لار د سر او مال نه تېر شول
صد رحمت شهٔ تل په آل د امامانو"[20]

د دې نه علاوه د ډاکټر اقبال نسيم خټک په غزلوکښې هم په څهٔ نه څهٔ ډول د مذهبي شاعرۍ درک او څرک ميلاويږي. د غزل د څو شعرونو نه ئې د مذهبي شاعرۍ رنګ داسې جوتيږي:

"چې نظر د عنايت ئې په چا اوشي
سربلند شي هغهٔ کس بخت ئې بيدار شي
زهٔ توفيق په هغه لاره د تګ غواړم
راضي من چې رانه روح د خپل سرکار شي"[21]

په وړومبي شعر کښې الله پاک طرف ته اشاره شوې ده او په دوېم شعر کښې پېغمبر (ص) ته اشاره شوې ده. دغه ډول د ابراهيم (ع) ذکر ئې هم د کلام برخه ده چې د مذهبي شاعرۍ په زمره کښې راځي ، وائي:

"ابراهيم وهٔ نمرود اور ته اچولے
ژب غړاندے اور په دهٔ باغ سمسور شهٔ"[22]

بې

"قرآن پاک" چې د ټولو مسلمانانو شريک مذهبي کتاب دے، اقبال نسم خټک ئې په خپل شعر کښې داسې ذکر کړے دے:

" په قرآن کښې هم د ښېرې صفت شته دے
خپل وطن که جنت بولم خطا نهٔ يم"[23]

يو بل ځاے ئې د قرآن پاک ذکر داسې کړے دے:

"مونږ ئې د مخ صحيفه عېن لکه قرآن ښکلوو
بې ذوقه خلق خو بس خرونه وي وابنهٔ پېژني"[24]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

دا شعرونه ئې هم مذهبي رنګ لري:

"چې تحقير د محمد کړي
په دوزخ کښې به داخل شي
داسې وخت د استغفار وي
په سجود دې هر عامل شي
هغه ذات غفور رحيم دے
که کرم وته مائل شي"[25]

او يا دا چې:

"چار ياران د محمد تړول راشدين دي
زۀ په پلار په نيکۀ پوخ محمدي يم"[26]

بل ځاے وائي:

"قارون د خزانو سره زور په زمکه ډوب شۀ
اعجاز د محمد (ص) کړي اسمانونو کښې سوري"[27]

د ډاکټر اقبال نسيم خټک شاعري په موضوعاتي توګه د مذهبي شاعرۍ ډېره برخه لري، دوي نعت او منقب دواړه ليکلي دي او عموماً ئې د غزل هيئت خپل کړے دے . په فني لحاظ سره خو د ډاکټر اقبال نسيم خټک په فن پارو د خبرې کولو نه ځان په دغه اساس ژغورو چې هغوئ د خپل وخت يو ستر شاعر، محقق، نقاد او دانشور وۀ. او د شعر د فن په لوازماتو ورته پوره پوره عبور ترلاسه وۀ. د هغوي د شعري فن پارو د لوستو نه پس د لوستونکي په دې خبره يقين خاص شي چې واقعي هغو د فن په حقله ځان پاک او متحاط ساتلے دے. په دې لنډ څېړنيز کاوش کښې ما کوشش کړے دے چې د ډاکټر اقبال نسيم خټک د شاعرۍ په مذهبي اړخ رڼا واچووم چې ستاسو په وړاندې دے.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

حوالې

[1]مسافر، اخونزاده فرمان، ځلنده ستوري، مکتبه اباسین اشنغر تنګي روډ چارسده، اګست ۱۹۸۴ء، مخ ۵۴۸
[2]هم دغه اثر، مخ ۵۴۸
[3]اېم اقبال نسیم خټک، ډاکټر، د راز خبرې په کاغذ، یونیورسټي پبلشرز افغان مارکیټ قصه خوانی پېښور، مارچ ۲۰۱۲ء، مخ "ا، ب"
[4]سید محي الدین هاشمي، ډاکټر، ډاکټر اقبال نسیم خټک (کار او زیار)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، اپرېل ۲۰۱۷ء، مخ ۱۳۴
[5] یوسفزے، مشتاق مجروح، زرکانړے، قلندر مومند ریسرچ سېل، ۲۰۱۹ء، مخ ۲۸۸
[6] فرزانه غني، ډاکټر، ادبي اصناف، اعراف پعنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۵۴
[7]اېم اقبال نسیم خټک، ډاکټر، د راز خبرې په کاغذ، یونیورسټي پبلشرز افغان مارکیټ قصه خوانی پېښور، مارچ ۲۰۱۲ء، مخ ۳
[8]هم دغه اثر، مخ ۵

[9]هم دغه اثر، مخ ۰۷

[10]هم دغه اثر، مخ ۸

[11]هم دغه اثر، مخ ۹

[12]هم دغه اثر، مخ ۱۲

[13]هم دغه اثر، مخ ۱۳

[14]د رحمان بابا کلیات، تحقیق ترتیب او سمؤنه دوست محمد خان کامل او قلندر مومند، یونیورستي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۲

[15]د راز خبرې په کاغذ، مخ ۱۴

[16]خټک، پروفېسر فضل میر، فضلیات (دوېم چاپ)، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، فروري ۲۰۲۰ء، مخ ۵۱۶

[17]انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات (اشاعت دوم)، نیلاب پرنٹرز گوالمنڈی (راولپنڈی)، ص168

[18]د راز خبرې په کاغذ، مخ ۱۶

[19]هم دغه اثر، مخ ۱۸

[20]هم دغه اثر، مخ ۱۹

[21]هم دغه اثر، مخ ۴۴

[22]هم دغه اثر، مخ ۸۶

[23]هم دغه اثر، مخ ۲۰۳

[24]هم دغه اثر، مخ ۱۵۸

[25]هم دغه اثر، مخ ۲۰۱

[26]هم دغه اثر، مخ۱۹۵

[27]هم دغه اثر، مخ ۱۹۳